Afghanistan Chamber of Commerce & Industries | Cell: 0774559666 | E-mail: info@acci.org.af | Website: www.acci.org.af

**مطبوعاتي خبرپاڼه**

# د افغان – ترک شپږم نړیوال نندارتون

**نېټه:** سه شنبه، د ۱۳۹۵ کال د وري ۳۱ مه، کابل، افغانستان
**پته:** اورانوس هوټل، د هوايي ډګر ۸۰ متره سړک، کابل، افغانستان

د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو اتاق او د افغان – ترک د سوداګرو او صنعتګرو انجمن، په ګډه د پنځو کلونو وړاندې نندارتونونو په لړ کې دا ځل د افغان – ترک شپږم نړیوال نندارتون  د روان ۱۳۹۵ کال د وري د میاشتې  له ۳۱ د غوئي د میاشتې تر ۳ نېټې پورې په کابل کې جوړ کړ.

د دې نندارتون د جوړېدو موخه د دواړو هېوادونو تر منځ د سوداګریزو اړیکو ټینګښت، د افغانستان او ترکیې د صادراتي توکو لپاره د بازار موندل، په دواړو هېوادونو په ځانګړې توګه په افغانستان کې د دواړو هېوادونو سوداګرو ته د پانګې اچونې  او مارکیټونو د وضعیت پوهاوی او همدا ډول ددې نندارتون له لارې د سیمې او نړۍ هېوادونو ته د افغان او ترک باکیفیته توکو وړاندې کول دي.

۳۵ افغان او ۲۵ ترکي شرکتونو په ۸۷ غرفو کې خپل محصولات لکه :ساختماني مواد، خوراکي توکي، موبل او فرنیچر، د سینګار توکي، جامې، وچې مېوې، برقي او د کور توکي او دیکوریشن په دې نندرتون کې نندارې ته وړاندې کړل. سربېره پر دې ۶۰ ترکي، تاجکي، قرغزي، او قزاقي سوداګرو او پانګوالو په دې نندارتون کې ګډون کړی وه.

ددې نندارتون په پرانیست غونډه کې، د ښې حکومتوالۍ او اصلاحاتو په برخه کې د ولسمشر ځانګړي استازي ښاغلي احمدضیا مسعود، د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو وزیر ښاغلي همایون رسا، د افغانستان د اقتصاد وزیر ښاغلي عبدالستار مراد، د اتاق د مدیره پلاوي لومړي مرستیال ښاغلي الحاج خانجان الکوزي، د اتاق د عامل پلاوي رئیس ښاغلي عتیق الله نصرت، د افغان ترک د سوداګرو او صنعتګرو ټولنې رئیس ښاغلي سمیع یاوز، افغان او ترکي سوداګرو او پانګوالو ګډون کړی وه.

د یادولو وړ ده چې د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو اتاق او ATSIAD د ۱۳۹۱ کال د کب د میاشتې په ۲۹مه نېټه یو هوکړه لیک هم لاسلیک کړی چې له مخې به یې ATSIAD تر راتلونکو لسو کلونو پورې په افغانستان کې د افغان – ترک نړیوال نندارتونونه جوړوي. په دې هوکړه لیک کې ددواړو هېوادونو تر منځ د ATSIAD  بنسټ له لارې اقتصادي همکاریو باندې ټینګار شوې دی. په حقیقت کې دا هوکړه لیک له افغانستان سره په اقتصادي برخه کې د ترکیې هېواد د اوږ د مهاله اړیکو ژمنتیا ښکارندوی دی.

اتاق او ATSIAD  پنځه نور نندارتونونه هم په بریالیتوب سره تر سره کړي دي. د افغان ترک پنځم نړیوال نندارتون د ۱۳۹۴ کال د غوئي د میاشتې  له ۱-۴ نېټې پورې  په کابل کې تر سره شو چې ۶۵ افغان او ترک شرکتونو په کې له بېلابېلو سکټورونو څخه برخه اخیستې وه او د څلور ورځو په اوږدو کې شاوخوا ۲۰۰۰۰ زرو کسانو له دې نندارتون څخه لیدنه کړې وه.

افغانستان ته د ترکیې صادرات په ټوله کې ساختماني مواد، د کور توکي، بریښنایي توکي، درمل او جامې دي. له افغانستان څخه ترکیې ته وچې او تازه مېوې او سبزیجات صادرېږي.